مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اریزی

۲۰۲۶/۰۳/۰۳

# افغانستان

## طبیعی، بشری، سیاسی، اقتصادي او تاریخي جغرافیه

### نولسمه‌برخه

ننګرهار

د دې ولایت تاریخي لرغونتیا د پخوانیو اریایانو له مدنیت سره اړیکې لري. د هیون تسنګ له قوله (نګرهارا) په اوستا کې یاد شوی دی. د بودیزم دین لمنه پخوا په دې سیمه کې دومره پراخه وه، چې د هډې غونډۍ په شان اثار یې په میراث پاته وو.له هډې څخه د ۱۵ زرو څخه ډېرې وړې او منځنۍ مجسمې لاس ته راغلي وې، چې په ۲ -۶ م پېړیو پورې یې اړه درلوده. د بودیزم یوه لویه عبادتخونه هم په هډه (جلال اباد- جنوب ختیځ) کې وه چې له بده مرغه په ورستنیو جګړو کې ورانه شوې ده. په کال ۱۸۳۳ م کې برتانوی Charles Masson جلال اباد ته نژدې، داسې یو لوښی وموند چې د هندویوناني واکمنیو د وخت سکې او مرغلرې پکې وې. دا ښایسته لوښی اوس د لندن په موزیم کې ساتل کیږي. ،

د جلال اباد اوسنی ښار مغولي پاچا جلال الدین محمد اکبر جوړ کړی و، چې په ۱۱۸۰ م کې سیلاب وران کړ او ښار بیا ورو-ورو له سره جوړ شو. د امیر حبیب الله خان، اعلیحضرت غازي امیر امان الله خان او ملکه ثریا مقبرې په دې ښار کې دي او د مملې باغ ډېر تاریخي حیثیت لري چې د شاه جهان زوی داراشکوه جوړ کړی دی.

ننګرهار km۷۹۱٦ پراخوالی او ۱۸٤۱۰۰۰ نفر نفوس لری. دا شمېرې وایي چې ننګرهار د پراخوالي په حساب د افغانستان پنځه ویشتم او د نفوسو په حساب درییم ولایت دی. د دې ولایت شمال ته کنړ او لغمان، جنوب او ختیځ ته پښتونخوا، جنوب لویدیځ ته لوګر او لویدیځ ته کابل پراته دي او د سمندر له سطحې څخه په منځنی توګه m۱۷۵۰لوړوالی لری. سپین غر او تور غر د ننګرهار لوی غرونه دي. سپین غر چې د پېښور په ختیځ کې پیل او په لوګر کې پای ته رسی، km۱۸۰ اوږد دی، چې تل په ګڼو ځنګلونو او واورو پوښلی وي. د سپین غر سیکارام څوکه د سمندر له سطحې څخه m٤۷۷٥ جکه ده.

کابل، کنړ او سوررود د دې ولایت سیندونه دي، چې بیا پښتونخوا ته درومي. په جلال اباد کې د کابل سیند په اوبو د درونټې بند ودان دی. په تیرو شلو کلونو کې جاپاني ناکامورا د دې ولایت د ځینو شاړو ځمکو په خړوبولو کې د پام وړ کارونه کړي دي.

ننګرهار مدتیرانه اي اقلیم،.تاوده اوړي او معتدل باراني ژمي لري. د کلني ورښت اندازه پخوا د ٤۰۰mm – ۱۲٥۰په منځ کې وه، چې د اقلیمی بدلونونو د اغیزې له امله کمه شوې ده. د تودوخي منځنۍ درجه (۲۱) ده چې په زمری/ اسد کې٤۸C⁰ ته هم رسي.

**ننګرهار د مرمر او شوکاټو ستر معدنونه ، کڼ ښوونیز مرکزونه، فرهنګي بنسټونه او د کتابونو د خپراوي دفترونه لری.**

| شمېر | د ولایت نوم | اداري درجه | مساحت په $km^2$ | ختیځ | شمالي | د سمندرله سطحې | نفوس |
|---|---|---|---|---|---|---|---|


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

| | | | | طول البلد | عرض البلد | څخه لوړوالی په m | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 6 | ننګرهار | لمړۍ درجه | 7641.1 | 69-28 | 34-48 | 1800 | 1409600 |
| 1 | جلال آباد | مرکز | 20 | 70-27 | 34-26 | 570 | 200400 |
| 2 | شینوار | و-۱ | 179 | 70-48 | 34-11 | 625 | 57300 |
| 3 | لعل پوره | و-۳ | 530 | 71-02 | 34-14 | 430 | 19600 |
| 4 | تازیان | و -4 | 91 | 70-48 | 34-04 | 1025 | 14000 |
| 5 | هسکه مینه | و- ۲ | 479 | 70-27 | 34-07 | 1475 | 38600 |
| 6 | دربابا | و- ۳ | 427 | 70-45 | 34-02 | 1500 | 22300 |
| 7 | بتي کوټ | و – ۳ | 147 | 70-44 | 34-16 | 575 | 72400 |
| 8 | رودات | و -3 | 661 | 70-34 | 34-15 | 725 | 66000 |
| 9 | چپرهار | و – ۲ | 185 | 70-21 | 34-17 | 950 | 57600 |
| 10 | مومند دره | و- ۲ | 281 | 70-52 | 34-15 | 470 | 42900 |
| 11 | اچین | و- ۲ | 463 | 70-43 | 34-07 | 1000 | 95900 |
| 12 | کامه | و -1 | 174// | 70-38 | 34-25 | 575 | 73500 |
| 13 | ګوشته | و -2 | 545// | 70-16 | 34-21 | 475 | 26100 |
| 14 | سرخ رود | و - ۱ | 383 | 70-18 | 34-25 | 700 | 115200 |
| 15 | بهسود | و- ۲ | 220 | 70-27 | 34-27 | 575 | 108700 |
| 16 | حصارك | و - ۲ | 642 | 69-52 | 34-15 | 160 | 29400 |
| 17 | دره نور | و – ۲ | 331 | 70-35 | 34-41 | 1175 | 38600 |
| 18 | کوز کنړ"بنبوه" | و - ۲ | 327 | 70-35 | 34-34 | 600 | 52600 |
| 19 | خوږګیاني | و - 1 | 181 | 70-11 | 34-15 | 1250 | 124700 |
| 20 | پچیروآګام | و – ۲ | 358 | 70-16 | 34-12 | 1225 | 40700 |
| 21 | شیرزاد | و – ۲ | 583 | 70-00 | 34-15 | 1450 | 63300 |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 49800 | ٧٢٥ | 34-08 | 70-35 | | و – ٣ | کوټ | ٢٢ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ